د افغانســتان اســلامي امــارت

د مخـابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت

څېړنې او پراختیا عمومي ریاست

څېړنې او نوښت ریاست

# د معلوماتي ټکنالوجۍ په برخه کې بدلونونه او پرمختګ

(میاشتنی لنډ راپور)

1404/5/ 29

ګڼه: R&I-D-05-R-1404

# لړلیک


سریزه ........................................ 2
عمومي موخه ........................................ 3
موضوعات ........................................ 4
۱.مصنوعي ځیرکتیا (Artificial Intelligence AI) ........................................ 4
۱,۱ د فیسبوک ,انستاګرام او و اتساف لپاره د(AI)نوی فیچر (ځانګړتیا) معرفي کړی ........................................ 4
۲,۱ د ( Antigravity A1) ټکنالوجي په ډرون کې نوی نوښت رامنځ ته کړي ........................................ 4
۳,۱ د پاکستان پرمختللی ریموټ سینسنګ سپوږمکی په بریالیتوب سره ځای پر ځای شوه ........................................ 5
۲ - نوی راڅرګندیدونکي ټکنالوجي او وسایل (Emerging Technologies & Gadgets) ........................................ 7
۱,۲ د هارورډ پخوانیو محصلینو نوې هوښیارې عینکې وړاندې کړی ........................................ 7
۲,۲ د روبوټ په برخه کې د ماغ په نوم نوی ټکنالوجي لرونکي روبوټ معرفي شو ........................................ 8
سرچینې (References) ........................................ 9

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله رب العالمین والصلاه والسلام علی سید المرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.

## سریزه

ټکنالوجۍ او نوښت د هیوادونو په وده کې مهم رول لوبوي. د انسانانو په لاس د ټکنالوجۍ پرمختګ د اوږدې مودې راهیسې په دوامداره توګه وده کړې ده. هر کال موږ د نویو ټکنالوجیو د راڅرګندېدو خبرونه اورو. د نن ورځې ټکنالوجیو سره آشنا کیدل ممکن د حکومتدارۍ ډول ، سوداګري یا آن زموږ د ژوند د ډول بدلولو پریکړه وکړي. ټکنالوجۍ یوه ډالۍ ده چې زموږ نړۍ پراخه، اسانه او ډیر په زړه پورې کوي. هر څه چې زموږ لپاره یو خوب دی، کیدای شي چې یوه ورځ د ساینسي پرمختګونو او د نویو ټکنالوجیو د راڅرګندیدو له امله په واقعیت بدل شي.

په وروستیو لسیزو کې، ټکنالوجیکي پرمختګونو او اړوندو بدلونونو په نړیوالو بازارونو، حکومتونو او ورځني کارونو باندې لویې اغیزې کړې دي. دا پرمختګونه د ډیجیټل حکومتولۍ، د معلوماتو امنیت، څیړنې او پراختیا، د معلوماتي ټکنالوجۍ نوښتونه، د مخ پر ودې ټیکنالوجیو او نورو معلوماتي ټکنالوجیو سکتورونو په شمول په مختلفو برخو کې پیښ شوي دي.

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت په هیواد کې د یوازیني باوري مقام په توګه د ټکنالوجۍ په برخه کې هڅه کوي چې د نویو ټکنالوجیو په اړه پوهاوی ترلاسه کړي. د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ د څیړنې ودې او د تخنیکي او مخابراتي فعالیتونو د پراختیا په موخه د دې وزارت په چوکاټ کې د څیړنې او پراختیا عمومي ریاست تاسیس کړی. په اوسنۍ نړۍ کې د ټکنالوجۍ د چټک او هراړخیز پرمختګ له امله، دا ځانګه ژمنه ده چې د نویو ټیکنالوجیو اړوند ټولو اړخونو ته بیاکتنه او ارزونه یې وکړي. دا وزارت پروګرامونه او ستراتیژیانې جوړوي او پلې کوي یې ترڅو له نویو ټیکنالوجیو سره معرفت او بلدتیا ولري او په اغیزمنه توګه یې د هیواد خلکو ته وړاندې کړي.

دغه ریاست د نویو ټکنالوجیو د پوهاوي په موخه په بیلابیلو لارو چارو غور کړی دی. دا وزارت هڅه کوي چې د ساینسي سرچینو، تحلیلي مطالعاتو او تخصصي راپورونو د بیاکتنې له لارې د مخ پر ودې ټیکنالوجیو پیژندلو او پلې کولو هڅه وکړي. دا ریاست د خپلو څیړنو له لارې هڅه کوي د نوی ټکنالوجیو د فعالیت امکانات هم وڅیړي. د اړوندو څیړنو په ترسره کولو سره، دا یقیني کوي چې نوې ټکنالوجۍ په ریښتیني شرایطو کې د اغیزمن فعالیت کولو وړتیا لري او که نه.

د دې ټولو هڅو او فعالیتونو سره د مخابراتو او معلوماتی ټکنالوجۍ وزارت په هیواد کې د ټکنالوجۍ په پرمختګ کې مهم رول لوبوي. د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجیو په برخه کې د نویو ټکنالوجیو پوهه د اړوندو صنعتونو په پراختیا کې، خلکو ته د خدماتو وړاندې کولو، او د ټولنې د معلوماتو د کچې په لوړولو کې ډیره مرسته کوي.

## عمومي موخه

په اسد میاشت کې د معلوماتي ټکنالوجۍ د نویو بدلونونو او پرمختګونو په اړه پوهاوی او د هغو شریکول د وزارت له محترم مقام سره.

فرعي موخې

دا راپور لاندې فرعي موخې لري:

- ✓ د نویو ټکنالوجیو معرفي کول او ورسره آشنا کیدل
- ✓ د نویو ټکنالوجیو د اغیزو ارزونه او تحلیل
- ✓ په افغانستان کې د دغو نویو ټکنالوجیو د منظم استعمال لپاره حل لارې او وړاندیزونه

## موضوعات

د مصنوعي ځیرکتیا په برخه کې د چین هېواد نوې پرمختګونه

### ۱.مصنوعي ځیرکتیا (Artificial Intelligence AI)

مصنوعي ځیرکتیا(AI) په هره برخه کې د پام وړ پرمختګونه کړي دي. دلته د اسد میاشتې د پام وړ پرمختګونو باندې بحث کوو.

### ۱,۱ د فیسبوک ,انستاګرام او و اتساف لپاره د(AI)نوی فیچر(ځانګړتیا) معرفي کړی

میټا په دې وروستیو کې په مصنوعي ځیرکتیا (AI) کې د خپل ځواک د لوړولو لپاره پراخې پانګونې کړې، څو له (OpenAI) او (Google) سره په سیالۍ کې ودرېږي، د دې سیالۍ اصلي هدف دا دی چې د میټا په خدماتو کې د AI جوړو شویو عکسونو او ویډیوګانو کیفیت لوړ شي د بېلګې په توګه، د (Meta AI) اپلیکیشن کې د AI عکسونو فیډ، د فیسبوک د پوسټ جوړولو پر مهال د AI عکس جوړولو تڼۍ، او په (WhatsApp) او انستاګرام کې د AI عکسونو جوړولو انتخابونه شامل دي.

سربېره پردې، میټا د فیسبوک او انستاګرام کاروونکو لپاره د مصنوعي ځیرکتیا پر بنسټ نوی د ژباړې فیچر هم معرفي کړی، چې د دې له مخې د کاروونکو لخوا جوړ شوی مواد په بېلابېلو ژبو ژباړلي شي. په دې توګه د بېلابېلو ژبو ویونکو کاروونکو ته فرصت برابر شوی، ترڅو خپلې ویډیوګانې او ریلز(لنډو ویډیوګانو)د نړیوالو نندارچیانو لپاره په نورو ژبو وړاندې کړي. اوس مهال دا وسیله د انګلیسي او هسپانوي ژبو لپاره فعاله ده او ډېر ژر به نورو ژبو کې هم فعال شي.[۱]



*انځور ۱: د فیسبوک ,انستاګرام او و اتساف لپاره د(AI)نوی فیچر(ځانګړتیا) معرفي کړی*

### ۲,۱ د ( Antigravity A1) ټکنالوجي په ډرون کې نوی نوښت رامنځ ته کړي

**انټيګراويټي (Antigravity) چې د چین د مشهوره بشپړ زاويوي کيمرو د توليدوونکي شرکت (Insta360) تر سيوري لاندې رامنځته شوې نوې بر انډ دی، د اګست په ۱۴ نېټه يې خپل لومړنی محصول انټيګراويټي A1 ډرون وړاندې کړ چې د 8K ۳۶۰ درجې کيمره او د الوتنې لپاره ځانګړې عينکې (Pilot Goggles) لري.**

**دغه ډرون د دوه‌ګوني لېنز لرونکو کامرو په درلودلو سره د (Insta360 X) ځانګړتیاوې انعکاسوي او د چاپېریال له هر اړخ بشپړ انځورونه ثبتوي، همدارنګه  دا د عینکو او لاس کنټرولر سره وړاندې کېږي، چې پیلوټ ته د مستقیم لید له لارې د ۳۶۰ درجې ویډیو اخیستلو اسانتیا برابروي.**

**دغه الوتکه یوازې ۲۴۹ ګرامه وزن لري، چې د ډېرو هېوادونو او سیمو له مقرراتو سره مطابقت لري، د شرکت د څرګندونو له مخې  یاد ډرون به د راتلونکې کال د جنورۍ په میاشت کې نړیوالو بازارونو ته وړاندې شي.** [۲]




*انځور ۲: د (Antigravity A1) ټکنالوجي په ډرون کې نوی نوښت رامنځ ته کړي*

## ۳,۱ د پاکستان پرمختللی ریموټ سینسنګ سپوږمکۍ په بریالیتوب سره ځای پر ځای شوه

د پاکستان د فضايي څېړنې کمیسیون **سپارکو (SUPARCO)** د خپلې نوې پرمختللې ریموټ سنسنګ سپوږمکۍ د بریالۍ توغونې اعلان وکړ. دغه سپوږمکۍ د ۲۰۲۵ کال د جولای پر ۳۱ د چین له شېچانګ فضايي مرکز څخه فضا ته ولېږدول شوه او اوس د ځمکنیو سټېشنونو سره په باثباته اړیکه کې ده او د لوړ کیفیت انځورونه لېږي.

یادې سپوږمکۍ د ښاري پلان جوړونې، زېربناوو پراختیا، سیمه‌ییز څارنې، او د طبیعي ناورینونو (سېلابونو، ځمکښویېدو او زلزلو) د پر وخت خبرتیا لپاره ترینه ګټه اخیستل کېږي  او همدارنګه دا به د کرنې په برخه کې د نقشې جوړولو او د اوبو د سرچینو د مدیریت لپاره به ګټور تمام شی.

یاده سپوږمکۍ به د چین او پاکستان اقتصادي دهلېز (CPEC) پروژو کې اغېزمنه تمام شي، د ترانسپورتي لارو په نقشه کې به مهم رول ولوبوي او د طبيعي پېښو د احتمالي خطرونو په تشخيص کې به مرسته وکړي.

په وروستيو کلونو کې د پاکستان فضايي پروګرام د پام وړ پرمختګ کړی، چې پکې د کورنيو سپوږمکيو توغونې، د قمري ماموريتونو لپاره چمتووالی، او د (PakSat-MM1) له لارې د انټرنېټ اسانتياوې شاملې دي .[3]




انځور ۳: KLEIYN: د توکيو پوهنتون نوښتګر روبوټ چې په ديوالونه خېژي

## ۲ - نوی راڅرګندیدونکي ټکنالوجۍ او وسایل (Emerging Technologies & Gadgets)

په هره میاشت کې مونږ د نویو ټکنالوجیو او وسایلو د رامینځته کیدلو شاهدان یو. دلته د اسد میاشتې د ځینو نویو ټکنالوجیو په اړه بحث کوو.

### ۱,۲ د هارورډ پخوانیو محصلینو نوې هوښیارې عینکې وړاندې کړې

د هارورډ دوه پخواني محصلینو د "Halo X" په نوم نوې ذهین عینکې جوړې کړې دي، چې تل فعاله وي. دغه عینکې د خبرو د اورېدو، ثبتولو، ژر تر ژره د ژباړې او اړوندو معلوماتو د ښودلو وړتیا لري. د جوړونکو په وینا، د دې وسیلې موخه دا ده چې کاروونکي یوازې د عینکو په اغوستلو سره سمدستي په هر ډول ژبه پوه شي، او هرې پوښتنې ته یې په خپله ژبه ځواب و وایې. د عینکو بیه شاوخوا ۲۴۹ ډالره اټکل شوې .

خو د محرمیت په اړه پراخې اندېښنې راپورته شوې دي  ځکه چې عینکې د خبرو پټ ثبت کولو لپاره هېڅ څرګند نښه (لکه د رڼا څراغ) نه لري  د حقوقي او مدني فعالانو په باور، دا کار د خلکو د خبرو د ازادۍ او شخصي حریم پر وړاندې لویه ننګونه جوړوي.

که څه هم جوړونکي وایي چې راجستر شوې خبرې وروسته له ژباړې څخه پاکېږی او یوازې د کارونکي د استفادې لپاره دي، خو بیا هم د امنیتي معیارونو او د معلوماتو د خوندي ساتلو په اړه شکونه شته.

په اوس وخت کې (Halo X) یوازې غږ ثبتوي او ښيي، خو کیدای شي په راتلونکو نسخو کې کامره هم ور زیات شي دا عینکې په بشپړه توګه یوازې کار نه کوی، بلکې له تلیفون سره تړاو لري او د (Google Gemini) او (Perplexity) په مرسته د کاروونکي پوښتنو ته ځوابونه برابروي. [۴]




*انځور ۴: د هارورډ پخوانیو محصلینو نوې هوښیارې عینکې وړاندې کړې*


### ۲,۲ د روبوت په برخه کې د ماغ په نوم نوی ټکنالوجي لرونکي روبوت معرفي شو

د ۲۰۲۵ کال په اګست کې د روباتیک په برخه کې د کالیفورنیا ایروین ښار کې یو شرکت د (FieldAI) په نوم اعلان کړ چې د روباتونو لپاره یې د "روبوت دماغ" په نوم نوی ټکنالوجي رامنځته کړې ده چې دغه ټکنالوجي د مصنوعي استخباراتو پر بنسټ ولاړه ده او د مختلفو روباتونو لپاره د فزیکي چاپېریال سره د سمون ورتیا لري.

د دې ټکنالوجي په مرسته روباتونه کولی شي په بې‌نقشه چاپېریال او پرته له GPSڅخه په خوندي ډول فعالیت وکړي. د دې ټکنالوجي د کارونې ساحه ډېره پراخه ده، چې پکې د ودانیزو چارو، انرژۍ تولید، ښاري تحویلي او تفتیش برخې شاملې دي.

FieldAIد جاپان، اروپا او متحده ایالاتو په ګډون له بېلابېلو هېوادونو سره د خپلو روباتونو د پراختیا او کارونې په موخه قراردادونه کړي دي.

په ټوله کې، د FieldAI ټکنالوجي د روباتیک په برخه کې یو مهم پرمختګ بلل کېږي، ځکه چې د مصنوعي ځیرکتیا او فزیکي چاپېریال ترمنځ د اړیکو د پراختیا او پیاوړتیا سبب ګرځي.[5]




*انځور۵: د روبوت په برخه کې د ماغ په نوم نوی ټکنالوجي لرونکي روبوت معرفي شو*

### سرچينې (References)


[1] https://www.theverge.com/news/764715/meta-ai-midjourney-license-partnership?

[2] https://www.scmp.com/tech/article/3321795/insta360s-antigravity-unveils-8k-full-degree-drone-challenging-dji?module=Tech%20Trends&pgtype=section

[3] https://www.msn.com/en-xl/asia/pakistan/pakistan-s-advanced-remote-sensing-satellite-successfully-deployed/ar-AA1KDlu3?ocid=msedgntp&pc=U531&cvid=3b444b2aa4d84373ba75c85ac4b89cce&ei=57

[4] https://techcrunch.com/2025/08/20/harvard-dropouts-to-launch-always-on-ai-smart-glasses-that-listen-and-record-every-conversation/

[5] https://www.reuters.com/business/robotics-startup-fieldai-raises-314-million-new-funding-sources-say-2025-08-20/?utm_source